


شماره شصت و چهارم / اسد ۱۳۹۹ July – Aug 2020




## د خپلواکی د ۱۰۱ کلیزې په مناسبت د مبارکی پیغام

د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې او د انرژي خدماتو ادارې د کار کوونکو په استازيتوب، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت جمهور رئیس جلالتمآب محمد اشرف غني، مرستیالانو، د ملي مصالحي عالي شورا رهبري، د کابیني غړو، د ملت د کور استازو، امنیتي ځواکونو  د دواړو ادارو درنو کار کوونکو او ټول افغان غیرتي ولس ته د ازادۍ د وياړمني ورځې د ۱۰۱ کلیزې مبارکي وایم.

په افغانستان کې د تلپاتې سولې، وروړګلوۍ او يو بل منلو په هیله!

**خپلواکي مو مبارک شه**

انجینر خان محمد تکل د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې عمومي رئیس او د انرژي خدماتو ادارې سرپرست

### جمهوررئیس غني د نیمروز ولایت مشرانو، متنفذینو او د بیلابیلو اقشارو استازو سره




### جلسه هماهنگی به منظور تسریع کار پروژه بند بخش آباد ولایت فراه تدویر یافت



### د اسکان لپاره د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې او د ښاغلي اغا خان مؤسسي تر منځ ګډه ناسته وشوه



# جمهوررئیس غني د نیمروز ولایت مشرانو، متنفذینو او د بېلابېلو اقشارو استازو سره په جوړه شوې غونډه کې ګډون وکړ





د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهوررئیس محمد اشرف غني د کمال خان بند په سیمه کې د نیمروز ولایت مشرانو، متنفذینو، علماوو، ځوانانو او د بېلابېلو اقشارو استازو سره په جوړه شوې غونډه کې ګډون او وینا وکړه.

د نیمروز والي سیدولي سلطان جمهوررئیس غني او ورسره پلاوي ته د ښه راغلاست پرمهال وویل، د پرمختیایي پروژو، ښې حکومتولی، د امنیت تامین، زېربنایي او ټولو پروژو په تطبیق کې د متوازن پرمختګ اصل ته پام شوی. هغه زیاته کړه، د کمال خان بند د دریم فاز جوړولو چارو د چټکیا او پر وخت بشپړولو په موخه یې د امنیت تامین، لازمو اسانتیاوو برابرولو او د خنډونو لېرې کولو ته پام کړی.

نوموړي وویل، ۱۲۶ ښوونځي ګټې اخیستنې ته سپارل شوي، د ۲۵ نورو ښوونځیو، جامع جومات، جمنازیوم او د پوهنتون د لیلې د جوړولو چارې رواني دي چې ژر به بشپړې شي. همدارنګه یې د کرنې او اقتصاد پوهنځیو د ایجاد وړاندیز هم وکړ.

وروسته د نیمروز د ولایتي شورا رئیس بازمحمد ناصري، مولوي حزب الله، ملالی احمدي، محمداسحاق شهباز، نعمت الله صدیقي او استاد عاطف د نورو په استازیتوب جمهوررئیس او ورسره پلاوي ته د ښه راغلاست پرمهال جمهوررئیس غني څخه نیمروز او په ځانګړي ډول د کمال خان بند د دریم فاز جوړولو ته د پاملرنې له امله مننه وکړه او همدارنګه یې له سولې پروسې، نظام او جمهوریت څخه خپل ټینګ ملاتړ څرګند کړ.

یادو ویناوالو د سوداګرۍ او ټرانزیټ، ناامنۍ، د برېښنا د بیو د لوړوالي، د فساد، مافیا، زورواکانو، د حج سهمیې د زیاتوالي، د دویمې درجې ولایت د تشکیل او امکاناتو ورکړې، د نیمروز پوهنتون د ارتقا، بلوڅي غالیو او لاسي صنعت ته د پاملرنې او بازارموندنې، د کرنې د ودې، ورزشي لوبغالو، بنسټونو ته د هرارخیزې پاملرنې، د لښکري کانال د پاکولو، د هوایي ډګر د تاسیساتو او د ښوونکو ښارګوټي د تصویب په اړه خپل وړاندیزونه له جمهوررئیس سره شریک کړل.

د جمهوري ریاست لومړي مرستیال امرالله صالح د سیستان وياړلي او روښانه تاریخ ته په اشارې وویل، د نیمروز خلکو تل د هیواد د دفاع او د خپلو سرحدونو په ساتنه کې د قدر وړ هلې ځلې کړې او قرباني یې ورکړې دي. هغه زیاته کړه، د کمال خان بند د دریم فاز جوړولو چارو او پرمختګ په لیدو خوښ شو او له دې سره به د نیمروز ولایت او د دې حوزې د خلکو په ژوند او اقتصادي وده کې ښه بدلون راشي.

د جمهوررئیس لومړي مرستیال وویل، طالبانو د دوحې له توافقنامې وروسته فکر کاوه چې د امریکایي عسکرو له وتلو وروسته به دوی د جنګ له لارې لاسته راوړنه ولري او په ډېرو ځایونو کې دوی له ولس سره په جګړه بوخت دي، مګر د تاوتریخوالي له لارې به هیڅ هم ترلاسه نه کړي.

ښاغلي صالح وویل، طالبان په سیاسي لحاظ مات شوي او زموږ غوڅ اکثریت هیوادوال د طالبي نظام پرځای د جمهوریت چې انساني فضا یې رامنځته کړې، پلویان او غوښتونکي دي. هغه زیاته کړه، دولت د باعزته او تلپاتې سولې په موخه مذاکراتو ته چمتو دی.

جمهوررئیس غني د وینا پرمهال وویل، نن هغه ورځ ده چې د افغانستان خلک باید خپل روښانه راتلونکي ته هیله من شي. د کمال خان بند د کار له بشپړولو وروسته به نیمروز خپل تېر برم او عظمت ته ورستون شي.

هغه زیاته کړه، د هلمند معاهده پرځای ده او د دغې معاهدې په چوکاټ کې به د افغانانو حقونه اجرا شي. د هلمند سېلابونه به نور د نیمروز خلک تهدید نه کړي، اوبه به په اساسي توګه مهار او نیمروز به دوباره د غلې په کندو بدل شي. لکه څنګه مې چې ژمنه کړې وه، څلور میاشتې وروسته به کمال خان بند د اوبو زېرمه کولو ته چمتو شي او د پرانیستې جشن به یې نمانځو.

جمهوررئیس د کمال خان بند د امنیت د تامین په برخه کې د امنیتي او دفاعي ځواکونو هلې ځلې وستایلې او وې ویل، زموږ امنیتي او دفاعي ځواکونه د جمهوریت په څېر د معاملې وړ نه دي. زه او زموږ ټول هیوادوال ورباندې وياړو.

د هیواد جمهوررئیس څرګنده کړه، جمهوریت زموږ ښځې، نارینه، علما او ټول په یو کتار کې درولي یوو او زموږ اداره باداره نه، بلکې د ولس خدمتګاره ده. هغه زیاته کړه، د جمهوري ریاست لومړي مرستیال امرالله صالح په نوښت په کابل کې د امنیتي میثاق پیل شوی پروګرام به چې ښه پایله یې ورکړې، سراسري او ټولو ولایتونو ته وغځول شي.

جمهوررئیس وویل، د منابعو د عادلانه وېش او د بې عدالتۍ او فساد د مخنیوي په موخه د افغانستان د نفوس سروې ضرور ده او هیله ده چې ټول برېښنایي تذکرې واخلئ. هغه زیاته کړه، زه بیا د رستم نیمروز غواړم، یوازې کرنه کافي نه ده، نیمروز باید زرغون شي او څو میلیون ونې وکرل شي .

محمداشرف غني وویل، د هیواد د نورو لویو ښارونو غونډې د زرنج ښار په ترتیب هم بوخت یوو. هغه له ګډونوالو وغوښتل د نیمروز پوهنتون لپاره د کار او بازار اړتیا اوغوښتنو ته په کتو اړوند پوهنځي وغواړي .

جمهوررئیس غني وویل، امکاناتو ته په پام به ستاسو ټولو وړاندیزونو او غوښتنو ته رسیدګي وشي، ځکه زما د برنامو منبع تاسو او د افغانستان ټول خلک دي. هغه زیاته کړه، د لومړي ځل لپاره شپږ زره ټنه څېره او وچه مېوه د چا بهار له لارې صادر شوي او زموږ ډېر واردات له ایران هیواد څخه دي، زرنج او اسلام قلعه بندرونه اساسي پاملرنه او ترتیبات غواړي چې بین المللي ټرانزیټ ته ځواب ووایي.

# جلسه هماهنگی به منظور تسریع کار پروژه بند بخش آباد ولایت فراه تدویر یافت










جلسه هماهنگی به منظور سرعت بخشیدن به کارهای عملی بند بخش آباد ولایت فراه به رهبری محترم انجنیر خان محمد تکل رییس عمومی اداره ملی تنظیم امور آب و سرپرست اداره تنظیم خدمات انرژی با حضور احمد ویس بصیری معین تخنیکی این اداره عبدالنصیر فراهی و عبدالغفار آرمان و همایون شهید زاده نمایندگان مردم ولایت فراه در ولسی جرگه و مسوولین شرکت قراردادی به روز دوشنبه ۲۷ اسد برگزار شد.

در این جلسه وضعیت جریان کار عملی پروژه‌ی بند بخش آباد مورد بحث و بررسی قرار گرفته و روی تسریع آن صحبت شد.

رییس عمومی اداره ملی تنظیم امور آب ضمن یاد آوری از اهمیت پروژه، از مسوولین شرکت قراردادی خواست تا پلان کاری خویش را با مقام رهبری اداره ملی تنظیم امور آب و نمایندگان مردم ولایت فراه هرچه زودتر شریک نموده و کار عملی پروژه را در ساحه سرعت بخشد تا زمان رفع تاخیر کار چند ماهه جبران شود و بند به زمان معین به بهره برداری برسد.

در همین حال نمایندگان مردم ولایت فراه به اداره ملی تنظیم امور آب و مسوولین شرکت قراردادی اطمینان داد که در انجام هرگونه همکاری در راستای تسریع کار عملی پروژه بند بخش آباد متعهد می باشد.

بند آبیاری و تولید برق بخش آباد دارای ظرفیت تولید ۲۷ میگاوات برق و ظرفیت ذخیره ۱۳۶۴ میلیون متر مکعب آب می باشد که با اعمار آن بیش از ۶۸ هزار هکتار زمین تحت آبیاری قرار می گیرد.

## د اسکان لپاره د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې او د ښاغلي اغا خان مؤسسې تر منځ ګډه ناسته وشوه







د اسکان د همکارۍ او همغږۍ په موخه د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې او د ښاغلي اغا خان مؤسسې تر منځ ګډه ناسته د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې د تخنیکي مرستیال، ښاغلي انجینر احمد ویس بصیري په مشرۍ چې د اغا خان مؤسسې د بېړنیو حالاتو او پېښو شبکې رئیس، او د یادې ادارې ریسانو، مشاورینو ګډون درلود تر سره شوه.

د اوبو دپروژو د مدیریت د پلي کولو په برخه کې همغږي، د ۷۰۰ قریو ارقام شریک کول چې له وړاندې د اغا خان مؤسسې لخوا پلي شوي دي؛ د دواړو ادارو له لورې د اوبو د مدیریت په برخه کې د (MOU)هوکړلیک تیارول، د سیلابونو مدیریت، د تخنیکي خدماتو وړاندې کول، د ظرفیت لوړونې برنامې، د یخچالونو مدیریت، د څارنې او خبرتیا سیستمونه، د ابریزونو مدیریت د دغه ناستې مهمه موخه وه.

په اخر کې دواړو لورو، د دواړو ادارو تر منځ د ګډې همکارۍ او همغږۍ د هوکړلیک په لاسلیک کولو ټینګار وکړ.

## د کندز او تخار ولایتونو د پراختیاي پروژو د کار له جریان څخه څارنه وشوه



د اسیا پراختیاي بانک د برنامو مدیریت مرکزي دفتر (C_PMO)رئیس ښاغلي انجینر سید مقیم سادات، په کندز او تخار ولایتونو کې د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې د پروژو د کار له جریان څخه څارنه وکړه.

ښاغلي سادات په دغه سفر کې د شوراب کانال، ارچي سربند، شهروان کانال پروژو او په بغلان ولایت کې یې د اوبو کڅه اخیستونکو ټولنو ساختمان چې څه موده وړاندې ګټې اخیستنې ته وه سپارل شو لیدنه وکړه.

همدارنګه ښاغلي سادات په دغه سفر کې په کندز ولایت کې د PIO مسؤلینو او د اوبو کڅه اخیستونکو ټولنو سره وکتل او په یاد ولایت کې یې د پروژو په ښه کیفیت او پر وخت پلي کولو ټینګار وکړ.

په عین حال کې د کندز ولایت د اوبو کڅه اخیستونکو ټولنو، د اوبو د چارو د تنظیم ملي ادارې له مسؤلینو څخه مننه وکړه چې د پروژو له چارو څخه څارنه کوي.

# تدویر برنامه آگاهی دهی از طرح جمع آوری آب باران سطح بام‌های ادارات؛ در اداره ملی تنظیم امور آب









این برنامه با حضور محترم انجنیر احمد ویس بصیری معین تخنیکی اداره ملی تنظیم امور آب، شماری از روسای این اداره، اساتید پوهنتونها و نمایندگان سایر ادارات دولتی به منظور آگاهی از طرح جمع آوری آب باران سطح بام های ادارات دولتی و عامه به چاه‌های جذبی جهت تغذیه و تقویت آب‌های زیرزمینی در اداره ملی تنظیم امور آب برگزار شد.

معین تخنیکی اداره ملی تنظیم امور آب در این برنامه از پایین رفتن سطح آب‌های زیرزمینی در شهر کابل یادآوری نموده تطبیق این طرح در تمام ادارات دولتی و عامه را در تقویت منابع آب مهم و موثر خواند.

آقای بصیری گفت: " مطابق به سروی انجام شده این اداره، اگر تمام ادارات دولتی و مردم عامه این طرح را عملی نمایند سالانه ۴۰ میلیون متر مکعب آب دو باره جذب زمین می گردد، به همین خاطر وی از تمام ادارات خواست تا در تطبیق این طرح همکاری نموده در تقویت آب‌های زیرزمینی شهر کابل سهیم شود.

نخستین پروژه‌ی این طرح با همکاری سازمان FAO به صورت نمونوی در محوطه اداره ملی تنظیم امور آب و ریاست حوزه عمومی دریایی تطبیق گردید .

با تطبیق این پروژه به تعداد ۱۰ چاه آبگیر به عمق ۸ الی ۱۰ متر در محوطه اداره ملی تنظیم امور آب و ۶ چاه در داخل محوطه ریاست حوزه عمومی دریایی به عمق ۱۵ متر حفرگردیده است.

این چاه‌های جذبی با یک میکانیزم خاص دیزاین شده و آب تمام بام‌های اداره جمع آوری و به آن‌ها منتقل می گردد.

## په پارلماني چارو کې د دولت وزارت مرستیال سره لیدنه



د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداری عمومي رئیس او د انرژي خدماتو اداری سرپرست، انجینر خان محمد تکل، په خپل کاري دفتر کې په پارلماني چارو کې د دولت وزارت مرستیال ډاکټر محمد کریم باز سره وکتل.

په دغه لیدنه کې د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداری او په پارلماني چارو کې د دولت وزارت په ګډو همکاریو خبرې وشوې.

په اخر کې، دواړو لورو د دواړو ادارو تر مینځ د لا زیاتو همکاریو ژمنه وکړه.

## د کندهار ولایت د سناتور او مشرانو سره لیدنه



د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداری عمومي رئیس ښاغلي انجینر خان محمد تکل، د مشرانو جرګې غړي حاجي محمود خان خاکریزوال او د کندهار ولایت یو شمېر مشرانو سره وکتل.

په دغه لیدنه کې په کندهار ولایت کې د اوبو په مدیریت او په ځانګړي ډول د کندهار ښار د څکلو اوبو، د بکیت کانال او دیشو کانال د پروژو په اړه خبرې وشوې.

ښاغلي تکل د کندهار ولایت مشرانو ته ډاډ ورکړ چې په یاد ولایت کې به د اوبو مدیریت ته پاملرنه کیږي.

## د بادغیس ولایت د استازي سره لیدنه



د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداری عمومي رئیس او د انرژي خدماتو اداری سرپرست، انجینر خان محمد تکل په خپل کاري دفتر کې په ولسي جرګه کې د بادغیس ولایت د خلکو استازي فریده بیکزاد سره وکتل.

په دغه لیدنه کې په بادغیس ولایت کې د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداری د پراختیایی پروژو په اړه خبرې وکړې.

د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداری عمومي رئیس د اوبو د مدیریت په موخه په بادغیس ولایت کې د پراختیایی پروژو د پلي کولو ډاډ ورکړ.

# دیدار با نماینده گان مردم ولایت تخار



محترم انجنیر خان محمد تکل رییس عمومی اداره ملی تنظیم امور آب و سرپرست اداره تنظیم خدمات انرژی در دفتر کارش با نمایندگان مردم ولایت تخار دیدار نمود.

در این دیدار پیرامون پروژه‌های انکشافی اداره ملی تنظیم امور آب به‌ویژه پروژه‌های تحکیمات سواحل دریای آمو در ولایت تخار بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

آقای تکل از تطبیق پروژه‌های انکشافی این اداره به منظور مدیریت بهتر آب در ولایت تخار به نمایندگان آن ولایت اطمینان داد

# دیدار با معاون تخنیکی اداره عملیاتی و حمایوی انکشاف ملی ریاست جمهوری



انجنیر خان محمد تکل رییس عمومی اداره ملی تنظیم امور آب با محترم احمد ذکی سرفراز معاون تخنیکی اداره عملیاتی و حمایوی انکشاف ملی ریاست جمهوری دیدار و گفتگو کرد.
در این نشست مطابق هدایت جلالتمآب محمد اشرف غنی رییس جمهور کشور، مقام‌های هردو اداره در مورد آب آشامیدنی و پروژه‌های سفید کوه و سیاه کوه ولایت ننگرهار صحبت نموده یاد آور شدند که در حال حاضر تیم تخنیکی برای کار عملی این پروژه‌ها به ساحه رفته است.
همچنان در این نشست پیرامون مشکلات سیلبرهای کانال‌های پارک صنعتی شیخ مصری، سروی و دیزاین تحکیمات سواحل دریای بهسود نیز بحث و تبادل نظر صورت گرفت.
آقای سرفراز ضمن تقدیر از کارکردها و فعالیت‌های اداره ملی تنظیم امور آب؛ به این اداره وعده سپرد تا در تطبیق پروژه‌های خورد و بزرگ کشور همکاری همه جانبه داشته باشد.

# دیدار با نماینده مردم ولایت کابل



محترم انجنیر خان محمد تکل رییس عمومی اداره ملی تنظیم امور آب و سرپرست اداره تنظیم خدمات انرژی در دفتر کارشان با الحاج مولوی محمدخان احمدی تره خیل نماینده مردم کابل در ولسی جرگه، دیدارکرد.

در این دیدار پیرامون وضعیت آب آشامیدنی کابل بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

رییس عمومی اداره ملی تنظیم امور آب اطمینان داد که این اداره، با جدیت کامل روی تطبیق پلان‌های کوتاه مدت و دراز مدت تقویت منابع آب آشامیدنی شهر کابل کار می‌کند.

# د سرپل ولایت استازي سره لیدنه



د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري عمومي رئیس او د انرژي خدماتو اداري سرپرست، ښاغلي انجینر خان محمد تکل، په ولسي جرګه کې د سرپل ولایت استازي حمیدالله بیګ سره په خپل دفتر کې وکتل او په سرپل ولایت کې یې د پراختیاي پروژو په اړه خبرې وکړې.

د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري عمومي رئیس د سرپل ولایت استازي ته ډاډ ورکړ چې د پروژو د سروې لپاره به ډېر ژر یو تخنیکي ټیم یاد ولایت ته ولیږي.

# د سمنګانو ولایت د خلکو استازي سره لیدنه



د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري عمومي رئیس او د انرژي خدماتو اداري سرپرست، ښاغلي انجینر خان محمد تکل په خپل کاري دفتر کې د سمنګانو ولایت د خلکو استازي الحاج مخدوم ابدال الله محمدي سره وکتل.

په دغه لیدنه کې په سمنګانو ولایت کې د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري په پراختیاي پروژو په ځانګړې ډول د کوچنیو بندونو په رغولو خبرې وکړې.

د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري عمومي رئیس د اوبو د سمنګانو ولایت د اوبو مدیریت په برخه کې د یاد ولایت استازي ته ډاډ ورکړ او یادونه یې وکړه چې ډېر ژر به سیمې ته یو تخنیکي ټیم د کوچنیو کنترولي بندونو د سروې لپاره واستوي.

# د کندز ولایت د خلکو استازې سره لیدنه



د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري عمومي رئیس او د انرژي خدماتو اداري سرپرست ښاغلي انجینر خان محمد تکل، په ولسي جرګه کې د کندز ولایت د خلکو استازې نیلوفر کوفي سره په یاد ولایت کې د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري د پراختیاي پروژو په اړه خبرې وکړې .

په دغه لیدنه کې د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري عمومي رئیس په کندز ولایت کې د اوبو د کانالونو د بیارغونې او چکډمونو د پروژو د پلي کولو په برخه کې د یاد ولایت استازې ته ډاډ ورکړ.

# دیدار با نماینده مردم ولایت ننگرهار



محترم انجنیر خان محمد تکل رییس عمومی اداره ملی تنظیم امور آب و سرپرست اداره تنظیم خدمات انرژی در دفتر کار شان با الحاج عبدالروف شپون نماینده مردم ولایت ننگرهار دیدار نمود.

در این دیدار پیرامون وضعیت عمومی مدیریت آب‌های ولایت ننگرهار و پروژه‌های بند ساگی و بند کامه بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

رییس عمومی اداره ملی تنظیم امور آب از توجه این اداره در قسمت بهبود مدیریت آب‌های ولایت ننگرهار به نماینده مردم آن ولایت اطمینان داد.

# دیدار با والی و نمایندگان مردم ولایت پکتیکا



محترم انجنیر خان محمد تکل رییس عمومی اداره ملی تنظیم امور آب و سرپرست اداره تنظیم خدمات انرژی در دفتر کارشان با مجیب الرحمن ځمکني والی ولایت پکتیکا، خالد اسد عضو ولسی جرگه، محمد حسن عضو مشرانو جرگه ونمایندگان شورای ولایتی ولایت پکتیکا دیدار نمود.

در این دیدار پیرامون پروژه‌های انکشافی اداره ملی تنظیم امور آب در ولایت پکتیکا از قبیل بند گومل۱، بند گومل۲، بند زامه، بند پلتونی، چک‌دم‌ها، بازسازی کانال‌های آبیاری و پروژه‌های تحکیمات سواحل بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

آقای تکل به والی و نمایندگان مردم ولایت پکتیکا اطمینان داد که در هفته‌ی آینده تیم تخنیکی به آن ولایت فرستاده می شود تا پروژه‌های انکشافی مدیریت آب را سروی و دیزاین نمایند

# دیدار با والی ولایت هلمند



محترم انجنیر خان محمد تکل رییس عمومی اداره ملی تنظیم امور آب و سرپرست اداره تنظیم خدمات انرژی با تورن جنرال محمد یاسین والی ولایت هلمند دیدارکرد.

در این دیدار پیرامون پروژه‌های تحکیمات سواحل آب‌پاشک، تطبیق پروژه‌های اعمار دیوارهای استنادی به منظور جلوگیری از تخریب زمین‌های زراعتی، اعمار چک‌دم‌ها جهت مهار سیلاب‌ها و جمع آوری آب باران و بازسازی کانال‌های نهرسراج، کاریز و بگت بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

آقای تکل به والی ولایت هلمند اطمینان داد که در حال حاضر یک تیم تخنیکی به ولایت هلمند فرستاده شده است تا پروژه های انکشافی این اداره در ولایت هلمند را سروی و دیزاین نمایند.

# د زابل والي، د ولسي جرگې غړي او د ولايتي شورا رئيس سره ليدنه



د اوبو د چارو د تنظيم ملي اداري عمومي رئيس او د انرژي خدماتو اداري سرپرست، انجينر خان محمد تکل په خپل کاري دفتر کې د زابل ولايت د والي تورن جنرال محمد نبي احمدزي؛ د ولسي جرگې غړې زهرا توخي او د دغه ولايت د ولايتي شورا رئيس سره وکتل.

په دغه ليدنه کې په ياد ولايت کې د اوبو د چارو د تنظيم ملي اداري د پراختيايي پروژو په ځانگړي ډول د چکډمونو جوړول، گبيوني تحکيمات، د اوبو لگوني کانالونو بيارغول، او د بريښنا رسوني د پروژو د پلي کولو په اړه خبرې وکړې.

د اوبو د چارو د تنظيم ملي اداري عمومي رئيس د زابل ولايت د والي او د ولس د استازو سره د اوبو د پروژو پراختيايي پلان مسوده شريکه کړه او هغوئ ته يې ډاډ ورکړ چې ډير ژر به د پروژو د سروې په موخه يو تخنيکي ټيم زابل ولايت ته واستول شي.

# په غور ولايت کې د چکډم درې پروژې گټې اخيستنې ته وه سپارل شوې




د غور ولايت په دهک، غار استاه او کندلباش قريو کې د چکډم درې پروژې د (۱۳,۲٦۹,٦۹۹) دېارلس ميليونو، دوه سوو شپېر نوي زرو، شپږ شوو نهه نوي افغانيو په ارزښت د اوبو مديريت په موخه بشپړې او گټې اخيستنې ته وه سپارل شوې.

د يادونې وړ ده چې په ولايتونو کې د چکډم پروژې د باران اوبو تولېدو څخه د سيلابونو له گواښ، د خاورې ښويدني څخه مخنيوې، چاپېريال ساتنې، د ځړ ځايونو ژغورلو او د ځمکې لاندې اوبو پياوړتيا په موخه د اوبو د چارو د تنظيم ملي اداري لخوا، سروې، ډيزاين او بشپړې شوې.

# عزيزخان کڅ دومه برخه تحکيماتی ديوال چارى ۹۵ سلنه پرمختک کړى




صاحب امتياز: اداره ملی تنظيم امور آب
مدير مسوول: خواجه فقير محمد "صديقى"
سر دبير: اسدالله زيرک
ويراستاران: نسرين "محمدی"و
عبدالولی "نبی زاده"
گزارشگران:
نعمت الله " اخلاقى"و
شبير احمد "صالح"
عکاس: محمد حکيم "فيض" و زهرا حيدرى
تيراژ: (        ) شماره
تهيه کننده: مديريت عمومى اطعات ولا ارتباط عامه
آدرس: وزارت انرژى و آب سرک عمومى دارالامان
ايشميل آدرس: khf.sidiqi@gmail.com
شماره تيلفون: ۰۷۰۷۱۸۴۲۳۳